٤- ماوشماخوش باشیم که به برکت جهادومجاهدین به اهمیت مفاهیم حقوق فردي و اجتماعي " وبه ارزش حجاب وچادربي بي فاطمه زهرا پي بردیم. اگر مجاهدین وتنظیم ها نمیبودند روشنفکران بیدین تمام این ارزشهارادفن میکردند وملت سربلند وعفیف مارادرگرداب بي حجابي وفساد غرق مینمودند.

باردیگرازمکاتبه تان باشهادت امتنان مینمائیم .

موفق باشید

«صرف» یادفتر کومك به مهاجرین افغان !!!

به کارکنان محترم اداره شهادت !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،

بعدازتقدیم سلام صحت وسلامتي شماراازبارگاه خداوند (ج) متعال خواهانم .

بعداً نامه اولي بنده بوده امیدوارم به نشررسانیده ماوتمام برادران هدفمند رامتنون سازید .

گزارش ازاین قراراست شایدشماقبلاً معلومات داشته باشیدباخبر دریشاوردفتري است بنام «صرف» یعني کمك به مهاجرین افغاني تقریباً ازمدت ده سال به اینطرف بنام کمك خیانات علني رادربرابرمردم مسلمان افغانستان انجام میدهندازجمله خیانات آنهااول اینکه مستقیم بدین مسلمانهاتجاوزنموده وتبلیغات وپاکتابي که بنام «مژده براي عصرجدید» یعني انجیل ساخته خودشان که گویا عیسي (ع) پسرخداوند (ج) است وبعضي افغانهاي که چندان عقیده به اسلام ندارند ویادربدل پول ناچیز دین خودرامیفروشند.

دوم اینکه بعضي دختران جوان رابدورخودجمع کرده اندبنام هاي این وآن آنهارابه کمپ هاي مهاجرین بخاطرتبلیغ عیسویت میفرستند تابتوانند هدف ناپاك خودراازاین طریق دربین مردم پخش کنند .

ناگفته نماندبه همین نزدیکي دفتري به همین عنوان «صرف» که گویاکمك به افغانهاکرده باشند درمزارشریف تیارکرده اند تابتوانند ازداخل درمیان مسلمانهانفوذ نمایند وددرسربراي حکومت اسلامي شوند:

چنانچه بیدل صاحب گفته اند :

تواضع هاي دشمن مکرصیادي بودبیدل

که خم خم رفتن صیاد آفت هاست مرغانرا.

یگانه آرزوي بنده این است تااین نامه رابه نشربرسانید که به گوش تنظیم هاي جهادي رسیده جلوهمچون خائنین غربي ازافغانستان کوتاگردد ودرآینده دردسرمثل کمونیست هانشوند .

والسلام برادرشماع، ع ،مهاجرافغاني مقیم پشاور

تقدیرازموزع شهادت

برادر فاضل ودانشمندمدیرصاحب جریدهٔ شهادت !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

محترما ! به صراحت بایدبگویم که جریده شهادت جریده‌ي است پرمحتواودارای مطالب ارزنده ،وقتي خواننده به مطالعه آن مي پردازدبه لذت معنوي آن پي مي برد که این همه ارزش موجود درجریده ازاثرزحمت وپشت کارشماودست اندرکاران قلمي تان میباشدآرزویم ازبارگاه ایزدمتعال موفقیت شماوهمکاران قلمي شماست .

جاي سخن این جاست که من یکي ازعلاقه مندان جریده شهادت بوده ودرعالم مهاجرت ودورازوطن بادست آوردن شماره هاي تازه درهرموقع ازحوادث جاري وطن خودبصورت واقعي آن باسایرمطالب ارزنده آن آگاه میشوم، باید عرض کردکه درساندن و توزیع شماره هاي جدیدجریده شهادت تلاش برادرمحترم موزع جریده شهادت دراسلام آباد قابل ستایش است وموفقیت بیش ازبیش این برادررا ازقادرتوانااستدعادارم.ضمناً منحیث یك خواننده پیشنهادهاي ذیل رالرایه میدارم درصورتیکه امکان عملي شدن آن میسرباشد باتطبیق آن به ممنونیت من وسایرخوانندگان خواهند افزود وآن اینکه اگربصورت متداوم درنشراخبارجالب وکوتاه ، طنزوظرافت هاي مطبوعاتي چاپ کارتون هاي سیاسي اقدام شود بهترخواهدبود. هکذا اگردرمعرفي نویسنده گان وشعراي دوران جهاد هفته واریادوهفته بعدویاهم درطول یکماه درصفحه مربوط شعروادب اقدام بدارید براي خوانندگان خالي ازمفیدیت نخواهدبود.وعرض آخراینکه اگردرجریده ازانعکاس نظریات ومواضع یك تنظیم صرفاً نشرات ننموده بلکه ازمواضع ونظریات سایرتنظیم هارابه شکل تحلیلي ویاانتقادي هم باشد نشرنماید بدنخواهد شد. درپایان ازخداوند (ج) براي شما وسایرکارکنان جریده شهادت تمناي موفقیت هاي بیشتردارم . بااحترام

محمداسماعیل «دژم» ازآي مرکز اسلام آباد پاکستان

احکام عامه درمورد اطفال بعدازولادت

سیدغلام فاروق «وحدتیار»

این بحث به چهاربخش جداگانه تقسیم می گردد به شرح ذیل که هریك راقدري به تفصیل توضیح می نماییم .

١- آنچه فوراً بعدازولادت اطفال بدست اجراقرارگیرد .
٢- تسمیه اطفال واحکام آن
٣- عقیقه واحکام آن
٤- ختنه واحکام آن .

(آنچه فوراً بعدازولادت بدست اجرا قرارگیرد)

دین اسلام یك دین جهان شمول است که هدایات ودساتیرآن تمام گوشه هاي زندگي انسان را احتوامي کند ودرهربخش زندگي رهنمودهاي ویژه ئي براي بشریت تقدیم میداردتابشردرروشني آن بطرف ترقي وتعالي مادي ومعنوي حرکت کندازآن جمله یکی هم هدایات ودساتیریست که بعدازولادت اطفال بایددرنظرگرفته شودتامربیون ومسوولین اموراطفال بخوبي بتوانند واجبات ومسوولیت هاي خویش را درقبال این موجودات معصوم انجام دهند .

اینك ماازین رهنمودهاي اسلام را قدري مشرح ذکرمي نماییم :

١- استحباب بشارت وتهنیت : مستحب است به هرمسلمان که حتی الوسع به مسرت وسرور برادرمسلمان خویش مبادرت ورزد. زمانیکه درخانه اوطفلي بدنیا آیدبرادرمسلمان خویش رابه تولد طفل مژده وبشارت بدهد، زیرابدینوسیله روابط میان خانواده هااستوارمي گردد، روابط بیشتراستحکام وپیوندمي یابد، میان خانواده هاي مسلمان محبت، الفت ودوستي بیشترمي شود .

اگرخوشخبري ومژده دادن رافراموش کندمستحب است که براي اوبراي طفل دعاکندامیداست که خداوند آن راقبول کند .

بنابرهمین مصلحت اجتماعي قرآن حکیم هم درچندموقع ازین بشارت تذکري بعمل آورده، تابراي امت مسلمه رهنماوسرمشق قرارگیرد چنانچه خداونددرداستان حضرت ابراهیم علیه السلام چنین مي فرماید: ولقدجاءت رسلنا ابراهیم بالبشري . به تحقیق آمدپیامبران (ملائکه) مانزدابراهیم (ع) براي مژده دادن .

درهمین آیات قدري بعدترمي فرماید :" وامرأته قائمة فضحکت فبشرناهاباسحاق ومن وراء اسحاق یعقوب "وزن حضرت ابراهیم (ع) ایستاده بودپس خندید(درین وقت) اورابه تولدشدن اسحاق (ع) وبعدازآن به پیداشدن یعقوب (ع) خوشخبري دادیم .

به همین ترتیب خداوند ضمن داستان حضرت زکریاعلیه السلام مي فرماید : درحالیکه حضرت زکریادرعبادتگاه ایستاده نمازمي خواند ملائکه اوراصدازدکه خداوند ترابه پیداشدن یحیي (ع) مژده میدهد .

درجاي دیگرحضرت زکریا علیه السلام را خداوندمخاطب قرارداده مي فرماید : یازکریا انانبشرك بغلام اسمه یحیي " اي زکریا ترابه پیدایش طفلي مژده میدهیم که نامش یحیي است .

این مژده وبشارت بایدعام باشدکه شامل اطفال ذکوروانات گرددنه اینکه مانند عادت جاهلیت انسان به اولادذکورخوش ومسرورگردیده براي برادرمسلمان خویش هم مژده بدهدولي زمانیکه اطفال اناث باشند اصلاً التفاتي نکندو درمژده دادن آن مبادرت نورزد .

٢- استحباب اذان واقامت درگوش اطفال :

ازرهنمودهاي اسلام بعدازولادت یکي هم اذان دادن درگوش راست طفل واقامت درگوش چپش مي باشدکه باید فوراً بعدازتولدطفل صورت گیرد .

چنانچه درحدیث آمده : روي ابوداودوالترمذي عن ابي رافع انه قال، (رایت رسول الله صلي الله علیه وسلم اذن في أذن الحسن بن علي حین ولدته فاطمة) ، حضرت ابورافع روایت مي کندکه پیامبرعلیه السلام رادیدم که چون حضرت حسن رضي الله عنه تولدشددرگوشش اذان داد .

دریك روایت دیگرآمده : روي البیهقي وابن السني عن الحسن بن علي عن النبي علیه السلام قال :" من ولدله مولود فأذن في اذنه الیمني واقام في اذنه الیسري لم تضره ام الصبیان ".

حضرت علي رضي الله عنه روایت مي کندکه پیامبرعلیه السلام فرمود: درخانه هرکي طفلي پیداشدواودرگوش راستش اذان دادودرگوش چپش اقامت گفت ام الصبیان (نوعي ازجن است که اطفال رااذیت مي کند) به آن طفل ضرررسانیده نمي تواند .

راجع به سروحکمت اذان واقامت درگوش طفل علامه ابن قیم درائرمعروفش "تحفة المودود" چنین مي فرماید :" اذان درگوش طفل بخاطرابنست تااولین کلماتیکه گوش انسان رادق الباب مي کند کلمات بابرکت اذان واقامت باشدکه درآن عظمت وکبریائي پروردگاربیان شده وگواهي وشهادت به دواصل بزرگ اسلام یعني توحید ورسالت نهفته است، گویااین عمل یك نوع تلقین به اسلامست حینیکه انسان قدم بدنیامي گذارد، طوریکه هنگام رحلت ازین دنیابه کلمات توحید تلقین مي شود.ازتاثیراین کلمات درقلب ودماغ انسان نمي توان انکارکرد اگرچه درآن وقت انسان درك نمي کند ".

یکي ازمفاد دیگریکه درین عمل نهفته است اینست که بااذان واقامت درگوش طفل شیطان ازوي فرارمي کند، زیراشیطان ترصدمي کندکه طفل بدنیابیایدتااورااذیت کند .

به همین ترتیب ازفلسفه وحکمت اذان اینست که باید انسان قبل ازدعوت شیطان بااین کلمات بطرف رحمان دعوت داده شودکه بعدازآن دعوت شیطان بي اثرشود، طوریکه فطرت خداوندي که برآن انسان راپیداکرده ازتغییروتصرف شیطان براانسان سبقت دارد .

٣- استحباب تحنیك طفل :

یکي ازدساتیراسلام بعدازولادت طفل تحنیك است، تحنیك جویدن وخوردکردن خرمادردهن وبعداً گذاشتن آن روي انگشت ومالیدن به کام ودهن طفل راگویند .

اگرخرمامیسرنباشد باهرچیزشرین دیگرمیتوان این عمل راانجام داد .

یکي ازمفاد این عمل اینست که بوسیله حرکت انگشت دردهن وکام طفل عضلات دهن او فعال ، قوي ونیرومند گردیده آماده مي شودکه بصورت درست شیرمادررا ازپستان بمکد .

درعمل تحنیك بهتراست کسي راگزیدکه به تقوي، ایمان داري وصلاح متصف باشدکه ازعمل اواثرخوبي ازین صفات درطفل مرتب گردد .

احادیثیکه فقهادررابطه بااستحباب تحنیك ازآن استدلال مي نمایند قرارذیل است .

عن ابي موسي رضي الله عنه قال : وُلدلي غلام فاتیت به النبي صلي الله علیه وسلم فسماه ابراهیم وحنکه بتمرة ودعاله بالبرکة ودفعه الي (جا ، في الصحیحین)

حضرت ابوموسي مي فرماید درخانه من طفلي بدنیاآمداوراززدپیامبرعلیه السلام آوردم، پیامبرعلیه السلام براو ابراهیم نام گذاشت وخرمادرکامش مالیدودرحق اودعاي برکت کردوبعدبه من دوباره داد .

ادامه دارد

دامربالمعروف اونهي عن المنکر حقیقت

ژباړه:محمد رحیم "خنجر"

دمسلمانانو د "خیرامه" توب لامل دادي چې هغوي بوازي دخپل ځان دخدمت لپاره نه دي پیدا شوي بلکې دهغوي دوجود هدف وګرد انسانیت خدمت دي دهغوي دشرف راز په " اخرجت للناس " کې پټ دي . هغوي دوطن پرستي لپاره نه دي پیدا کړي شوي بلکې دا عیناً داسلام دفطرت غوښتنه ده چې هغه دانسانیت خادم وي.

اوس باید وکتل شي چې دمسلمانانو هغه اصل خدمت چې دامربالمعروف اونهي عن المنکربه الفاظو ذکر شوي دي څه ډول خدمت دي اودهغه حقیقت څه دي ؟

" معروف" په لغت کې هغه څه ته وایي چې پیژندل شوي وي اوپه اصطلاح کې هر هغه فعل ترې مراد دي چې سهي عقل ورسره اشناوي اودهغه په ښه والي سلیم فطرت پوهیږي اوپیژني یې اودهغه په لیدلو سره دهر انسان زړه دا شاهدي ورکوي چې دا ربښتیا هم ښه دي . ددي په وړاندي د" منکر" کلمه ده چې په عربي لغت کې ناپیژندل شوي او نامانوس شي ته وایي اواصطلاحاً یې پرهغه فعل اطلاق کیږي چې سلیم فطرت یې نه خوښوي سهي عقل پرې دبدي حکم صادروي اوعام انسانان یې بدګڼي . ربښتینتوب ،پرهیزګاري ، دپوراداکول دکمزورو اوبیوزلو لاسنیوي دغمځپلو سره خواخوږي ، دمظلومانو مرسته دارو سره مرسته ،دعدل او نیاو ټینګښت دخداي اودهغه دبنده ګانو اوخپل حقونه پیژندل اوهغه ادا کول. اوداسي نور اخلاقي فضایل معروف ګڼل کیږي .پرهغه عمل کول اونورپرهغه عمل کولوته رابلل " امر بالمعروف " وي .ددي سرچپه خیانت ،بدعملي درواغ ،فتنه اوفساد جوړول ، ظلم له خپلو حدود نه تجاوز ، دنوروحق خوړل ، دباطلو ملاتړ ، حق اوصداقت پټول - پر ضعیفانو اومعذورو تیري دا اودي ته ورته دانسانیت، عقل اوفطرت خلاف اعمال "منکر" ګڼل کیږي.

اوله هغه نه پخپله ځان ساتل اونورترې منع کول " نهي عن المنکر" ګڼل کیږي.

په دي کې لومړي له ځانه نیك سړي جوړول اوله بدي نه ځان ساتنه پر نورو مقدم ګڼل کیږي اوله نورو نه نیکان جوړول اوله بدي نه یې منع کول ورووستي مقام لري لکه چې امر و ا بالمعروف ونهو عن المنکر(په نیکیوامرورکړي اوله بدیو نه منع کړي) نه وروسي داقاموا الصلوة وآتوالذکوة له ذکرنه معلومیږي او حقیقت هم دادي چې له نیکو جوړولو نه نیك جوړیدل ضروري دي لیکن ځرنګه چې دخپلي خېتي له مړولونه دنورو دخیټومړیدل افضلیت لري په همدي توګه دفضلیت په اعتبار دنیکیوخپرول اودبدیو دمختیوي درجه هم دنیك جوړیدلو اودبدیو دترك نه زیاته ده ځکه یوخپل خدمت دي اوبل دخپل بني نوع خدمت بو بوازي دانسانیت درجه ده اوبل د کامل انسانیت په نیکو پخپل عمل کول اوله بدیونه پخپل عمل کول اوله بدیونه پخپله ځان ساتل یقیناً یوښه صفت دي اود یوشریف انسان اودشرافت اعلي درجه ترهغه وخته پوري دانسان پربرخه کیداي نشي ترڅودنوروډنیکو جوړولو اوله بدي نه دمنع کولو کوښښ ونکړي.

دانسان فطرت دي چې که څه شي یې نه خوښیږي نوهغه پریږدي که دناخوښي نه یوه درجه لوړیږي اوکرکي اونفرت ته رسیږي نو دهغه لیدل اواوریدل هم نشي زغملي .که نفرت یوه درجه لوړشي اودښمني ته

راځي نودهغه ددفع کولو لپاره ډیرکوښښ کوي مګرکله چې ګوري نوروته مصیبت رسیدلي دي له هغو سره مرسته نه کوي ددي پرخلاف کوم سړي چې خواخوږي اودانسانیت محب وي هغه ټول پخپل راحت کي شریکوي.

خپل نعمتونه پرټولو ویشي اوکله چې نورپه یوه مصیبت کې ګوري نودهغو په لیدلو سره داسي بې تابه دي لکه چې دځان لپاره کیداي شي دا خپلچاري او خواخوږي دمحسوساتو اومادیاتو تردنیا پوري محدوده ګڼو لیکن داخلاقو اوروحانیت په دنیاکي ددي صفاتو کوښښ نه کول ترټولو لویه خپلچاري اوانانیت دي لیکن دا بوراځي خپلچاري نه بلکې ځان وژنه هم ده انسان یوه متمدنه هستیي ده هغه له ولي جلا ژوند نشي کولاي. دهغه نیکي اوبدي هرڅه اجتماعي دي که چیري لږ سهوه اوخطا ترې وشي نو هغه ترې نشي بچیداي که چیري په یوه ښارکي په عمومي ډول ناولتیا خپره وي اوله هغه نه وبا پیداشي نو د هوا خرابوالي بواځي هغه شخص نه هلاکوي چې په کورکي یې ناولتیا موجوده ده بلکې هغه صاف سټره ... اوهره ورځ خپل کورپاکوونکي اودحفظ الصحي دپاملرني والاسړي هم له هغه نه متاثره کیږي چې پدي ښارکي اوسیږي .په همدي ډول که دیوه کلي عام اخلاق خراب شوي وي اودهغه ځاي ټول خلك بدکاروي که پرهغوکومه تباهي نازلیږي هغه بوازي تربدکارانو پوري محدوده نه پاتي کیږي بلکې دهغو ځونیکانو عزت اوشرافت ته یې هم صدمه رسیږي چې پدي کلي کې اوسیږي. وتقوا فتنة لاتصیبن الذین ظلموا منکم خاصه " انفال- ٢٥ "

چې همدا معني ده چې دیوه کلي په عامه تباهي کې بوازي هغه کسان نه تباه کیږي چې بدکاروي بلکې نیکان ورسیږي نودهغه دسرکوبولوهڅه کوي اوکه له دښمني څه خبره لوړه شي دهغه په زړه کي دبغض اوعناد سختي جذبي پیداکیږي نوبیا د هغه له منځه وړل دخپل ژوند هدف ګرځوي . اوبدي توګه خپلي متې رانغاړي اوپه هغه پسي کیږي چې ترڅو یې هغه له منځه نه وي وړي ارام نه کښیني په همدي توګه یې چې څه خوښیږي نوخپله یې غوره کوي کله چې له څه شي سره مخ کیږي نوپه سترګویې له لیدلو اوپه غوږونو یې دذکر د اوریدلو نه خوند اخلي .

٤مخ

داسلام دسترپیغمبر(ص) وروکتوب ته یونظر

ځیړنه اوژباړه : عاطفي

محمدبن عبدالله صلي الله علیه وسلم په سبي اوبشپړه معني دتکلیفونومتحمل اوزحمت کښه شخصیت و، دنړي په ټولو برجسته اوبارزو شخصیتونو کې چې په ورکتوب اوځواني کې ئې زحمتونه اوتکلیفونه ګاللي پردوي کې یوهم داسي شخصیت نه میندل کیږي چې دحضرت محمدصلي الله علیه وسلم پشان ئې په ورکتوب اوځواني کي تکلیفونه ، مصایب اوزحمتونه ګاللي اومتحمل شوي وي کله چې داسلام عظیم پیغمبرصلي الله علیه وسلم فاني دنیاته سترګي پرانستلي دده پلار عبدالله له دنیاڅخه سترګي پټي کړي وي که څه هم دمحمدصلي الله علیه وسلم دنسب سلسله اوتعلق دمکي دقریشوله قبیلي څخه وچې داقبیله په عربوکي دزیات رسوخ خاوندان اوټولو خلکوورته داحترام اوبزرګي په سترګه کتل، لیکن له دي سره سره دسرورکونین مبارکه مور تردي حده مجبوره شوه چې دخپل یتیم زوي دپالني اوروزني لپاره دخپلي پلار ګني لورته چې په مدینه کې ئې هستوګنه درلوده سفروکړي، ځکه عبدالله له وفات نه وروسته دده یتیم له مورسره ددنیاله مال اومتاع نه څه هم نه ورپاتي، کله چې حضرت بي بي امنه اودده یتیم زوي محمدصلي الله علیه وسلم مدینې ته ورسیدل ددوي خپلوانو دوي ته تودهرکلي اوښه راغلاست وویل بي بي امنه چې په ځواني کي کونده شوي وه له یوي خوادمیړه فراق اوجدائي ځوروله له بلي خوادیتیم محمدصلي الله علیه وسلم پالني اوروزني ډیره غمجنه کړي وه دغمونو دغلطولوپه غرض ئې اکثروخت داشعاروپه ویلواوپه لوست ځان مشغولاوه ، هغه زمانه کي په جزیرةالعرب کي دمخوروواورسوخ دخاوندانودکورني ښځوبه اشعاروسره زیاته مینه درلوده اوحتي خپله مشغله بي ګڼله محمدصلي الله علیه وسلم چې په مکه کې دلومړي پینځي سره مخ شو اوکله ئې داسي واقعه نه و لیدلي هغه داچې دخپل ځان څلوروخواووته بي اوبه ولیدلي، ځکه په مکه کي داوبوقلت و اوحوضونه نه وو دده برخلاف په مدینه کي داوبوحوضونه واوکوچنیانوبه داوړي په موسم کي دګرمي نه دژغورلوپخاطر په حوضونوکي لامبل نومحمد صلي الله علیه وسلم هم په لومړي ځل په مدینه کي په حوض کي ولامبل ، دبي بي امني خپلوانودوي هرڅمکنه مرسته وکړه لیکن افسوس چې هغه په مدینه کي داسي سخته ناروغه شوم چې خپلوانوته ئې وفات کیدو واقعه یقیني شوه، په عربوکي دودوچې کله په ناروغ دنزعي حالت څرګندیدونونژدي خپلوان ئې راټولیدل اوبه مسلسل ډول ئې خبري کولي پدي خاطر چې ناروغ پدي وروستي وخت کي ځان یوازي محسوس نکړي اوونه ویریږي ،نودبي بي امني په څلورو خواووکي دده نژدي خپلوان راټول شوي وو اویلاوفغي په خبروبوخت وو کله کله به حضرت بي بي امني هم دشوندوپه ربیدوسره دڅه ویلوکوښښ کاوه چې څوك وریاندي نه پوهیدل، پدغه حالت کي محمد صلي الله علیه وسلم په ناڅاپي ډول خپل سرمبارك دخپلي غمجني موربرسینه کیښودبه ژړغوني اوازاوهیجاني حالت ئې پرموروغږکاوه موري ... موري ... ته ولي ځواب نه ورکوي ؟ لیکن ددي نیك سیرتي روح پروازکړي و دغمجني امني نزدي خپلوانودغسل اوتکفین مراحل پداسي حال کي ترسره کول چې محمدصلي الله علیه وسلم داد درداوغم صحني پخپلومبارکوسترګولیدلي ، دبي بي امني جسدئي دتکفین نه وروسته کله چې دتدفین ځابي ته اورنودده یتیم اوغم ځپلي زوي محمد صلي الله علیه وسلم ددي مبارکي جنازي سره سم روان و کله چې دابواپه مقام کي دبي بي امني جسدخاوروته وسپارل شواودجنازي ګډون کونکي بیرته ستانه شول ګوري چې یتیم محمد صلي الله علیه وسلم ددوي سره نشته، په توندي سره بیرته دابوامقام ته ستانه شول ګوري چې ماشوم یتیم (محمد صلي الله علیه وسلم) دخپلي موربرمقبري پروت دبي کسي، یتیمي اودیسري په سرو اسویلوسره پرخپلي موردآه اوفریاد سره غږونه کوي، اوبه ژړغوني اوازسره داجملي تکراروي . مورجاني .... مورجاني کورته ولي نه درومي اياته نه پوهیږي چې زه په دي دنیاکي پرته له تاڅخه بل څوك نلرم ؟

صغیرمحمدصلي الله علیه وسلم چې دپلارله مهربانیوڅخه لاپخوامحروم شوي و دموردشفقت محرومتیا پردي مبارك زیاته اغیزه وکړه اوټولي ورځي به په بوازیتوب اوګوشه نشیني کي غمجنه ناسته و، کله چې دده همزولو ده ته دلوبو دعوت ورکاوه نوده مبارك به ویلي ماپخپل حال پریږدي اوزه له تاسوسره لوبي نشم کولاي .

دمورفراق پرده مبارك دومره اغیزه وکړه چې خواړه اوخښاك ئې ترك کړل، ماماګانوئي په شدت سره دامحسوسه کړه چې دمحمدصلي الله علیه وسلم صحي وضعه ورځ په ورځ په خرابیدو ده په همدي لحاظ ئې فیصله وکړه چې محمدصلي الله علیه وسلم مکي ته واستوي چیرته چې دده نیکه عبدالمطلب اوسیږي، عبدالمطلب دقریشو اودمکي یومخوراومعمرشخصیت وچې "١٠٨" یوسل اته کاله عمرئي درلود، عبدالمطلب چې کله خپل یتیم لمسي محمدصلي الله علیه وسلم دخپلو سترګوپه وړاندي ولید نوپه زیات شدت اواحساساتو سره ئې دمحبت اظهاروکړ، لږي ورځي نه وي تیري شوي چې عبدالمطلب دخپل یتیم لمسي سره داسي مینه اومحبت پیداشوچې یوه لحظه ئې هم له خپل ځان نه،نه بیلاوه حتي تردي چې کله به عبدالمطلب (دارالندوي) ته تلو نومحمدصلي الله علیه وسلم ئې هم له ځانه سره وړ ، که څه هم چې په لومړي ځل محمد صلي الله علیه وسلم دخپل نیکه سره الندوي ته داخل شو دقریشو مشرانوسخت احتجاج وکړاوحضرت عبدالمطلب ئې په کلك اعتراض سره مخاطب کړاووېي ویل چې تاسي دمشرانوغونډي ته له ځانه سره یوماشوم راولي چې داکاره(ص) متناسب نه اوله اصولوڅه انحراف دي .(الندوه په اصل کي دمکي دخلکوډپارلمان نوم دي اودي ځاي ته بوازي هغه مخورمشران داخلیدلاي شول چې دقوم مشري ئې پرغاړه اوعمرئي دڅلوېښتوکلنوڅخه اوښتي واي لیکن لږوخت نه وتیرشوي چې دقریشو اعیانو دمحمدصلي الله علیه وسلم دحمیده اخلاقو اونیکواعمالوګرویده شول او دمحمدصلي الله علیه وسلم سره ئې دومره مینه پیداشوه چې هرکله به محمد صلي الله علیه وسلم دخپل نیکه سره الندوي ته تشریف ووړه نودقریشواعیانو (دمجلس ارکانو)به ده ته په مینه اومحبت ښه راغلاست وایه اودپیرزویني اظهاربه ئې کاوه لیکن افسوس چې ددووکلونوڅخه وروسته عبدالمطلب دیوسلولسوکالو په عمرفاني دنیاته ودداع وویله اوبوځل بیا محمدصلي الله علیه وسلم بي یاراومددګارپاته شو. دمحمد صلي الله علیه وسلم تره ابوطالب چې یونیك خوبه شریف ولي بي بضاعته شخیت و اودخپلي لوي اوپرنفوسي کورني دکفالت درونده مسئولیت ئې هم پراوبروبروت و

٤مخ

دنیا

لاخپلي خبري نه وي ختمي کړي چې روبي بي ورکړي اوورته بي وویل ! سباسحروختي به زه دکراچي سره په همدي ځاي ولاړیم له آذانه به مخکي راځي اوددي سره دواړو خداي پاماني وکړه .

کورته په رسیدوني میرمني ته دکاردپیداکیدوویل :

هغې خپل لاسونه بره ونیول اوډیري دعاګاني ئې کلیوال ته وکړي مازیګربي خپله لورډاکترته بوړه ، ښه وددرملوسره ئې تري سل روبي واخیستي، شپه تیره شوه سهاروختي ښارته ولاړ. کلیوال په خپله وعده په معلوم ځاي کي دکراچي سره ولاړو رئیس هاشم ته ئې په منډبې کې الوګان واخیستل .

دخرڅولوځاي ئې وروښوداودغسي ئې ددغه کارځني نورتاکتیکونه هم ورزده کړل اوترې ولاړ. دهغه داپخپل ژوند کي دمزدوري لومړي ورځ وه .

ښه وه ترمازیګره ئې ټول الوګان خرڅ شول، ترحساب وروسته معلومه شوه چې اتیاروپې اودوه کیلوالوګان ئې ګټلي دي . هغه ډیرخوشحاله و ، اوپردغه خبره ئې عقیده نورهم کلکه شوه چې خداي (ج) څوك له لوږي نه وژني .

سباته پخپله منډبي ته ولاړ. داخل ټوله ترکاري بواځي واخیسته اوخپل پروني ځاي ته راغي ده لاذوه دریو تنوته سودانه وه ورکړي چې دخلکوچیغي اومندي پیل شوي. هغه چې وکتل نوټولو ترکاري خرڅونکوخپلي کراچي په منډوکړي وي.لږه شیبه وروسته هغه ولیدل چې پولیسوټول سرك به ترکاري وك کړ. خوښه وه رئیس هاشم ته چې ترخوراسیدل نوده بیا په ډیره بیړه خپله کراچي دهغوي له سترګوپناه کړي وه. هغه چې دپولیسوظلم ولیدنودځانه سره ئې وویل ! عجیب وطن دي څوك مزدوري ته هم نه پریږدي !! هغه چې کله له نورواوریدل چې زمونږهره ورځ داحال دي نونورهم خفه شو.

مازیګرکورته راغي اوله ځانه سره ئې دامشوره وکړه چې لدي وروسته به خپل ماشوم ځوي هم له ځانه سره بیایم په همدي ډول به ئې بیا ځوي هم له ځانه سره راووست. پولیس چې به کله راغلل نوده به له کراچي ځان ګوښه کړاوځوي به ئې ورته پریښود کله چې به هغوي دکراچي دڅښتن پوښتنه وکړه نوځوي به ئې په ژراشو.

په دي کي به ورته دي راغي اوورته وبه بي ویل، چې ترڅونې خاوند پیداکیږي زه به ورته ګورم ! په دي ډول به ئې کراچي دپولیسو له شره وژغورله، خوخبره کله پټیدي شوه، یوه ورځ نه وه اوکله چې ئې بله ورځ هم داسي وکړل نوپولیس پري پوه شو دهغه دکراچي ټوله ترکاري ئې پرسرك وغورځوله اولاتي وهل هم ورزغمل . دهغه ټوله خواري په سیندلاهوشوه اودغسي له دي کاره هم له ناکامه لاس په سرشو. هغه بیا اوزګارپه کورکښیناست اریان وچې څه وکړي . کله کله چې به ئې خپلوانو ولیدنوهغوي به ورته دکابل دتګ مشوره ورکړه ، هغوي به ورته وویل: ستاغوندي یوه سړي بایدولي اوزګاروي؟ ځنوبه لابه تحقیرآمیزډول وویل رئیس صیب ! دلته انګلیسي مینګلیسي په دردنه خوري ورشه هماغه ځاي درته ښه دي، دلته هغه څوك اوسیدي شي چې په متوکي ئې زوروي، ستاپیاده ګان تن تاسره په خبروشرمیږي او ... هغه چې به دخلکوداسي خبري واوریدي نوپه ډیره سړه سینه به ئې ورته وویل :

زماهمداژوند خوښ دي ، زه پري افتخارکوم ،خپل هجرت کله هم نه خرابوم که څه هم هغه هرچانه له خپله ژونده شکایت نه کاوه خوخلك څوك کله پریږدي؟ بني آدم به له ځانه خبرنه وي اوبه تبصروبه ئې نورځانونه ستړي کړي . هغه به خپلو اقتصادي ستونزو دومره نه ځوراوه لکه څومره چې به دداډول خلکوخبرو خوابدي کاوه .

(نوربیا)

شعروادب درپرتو انقلاب اسلامی

به پیشوازمیلادفرخندهٔ پیامبرختمي مرتبت
صلي الله علیه و اله وصحبه وسلم

«تمیم»

محمد(ص) که اعزازآدم بود
نبوت شده ختم درشـــان او
کجامن،کجاوصف آن شاه دین
وراوصف انجیل وفرقـان کند
مراعهدبـاشـدبـه داورچنین
زخونم اگرخاك گلگون کـنند
جهان دربي حقه بازي شـود
بسوزندیکسرمراهست وبـود
زدل مهراحمدنخواهـم سترد
مراگرچه دوران کشیده زیاد
همیگفت آن مردنیکوسرشت

وجـــودش خـراج دوعـالم بـود
درودخــدا (ج) رفـته برجـان او
که ازفـیض اوگشـــته ام راهبین
به توراتِ موسي که سبحان کـند
همودارداین گـفته راآهنـــین :
زاشکم روان رود جیحون کنند
به قتلم دل خصم راضــي شـود ،
چنان تاتمـاندیکـــي تـاروپود
گرفتم که دشمن گلـــویم فـشرد
یکي نکته دارم زبانـابـه یـاد ،
که بادش مکان جاودان دربهشت :

ستایش کني چون رسول خداي
به آداب قرآن زبان برگشاي

دامن زیري

فدامحمد «فایض»

مادعمرونوسوي سکورته لزتسل راکړه
دعیش باده نه وایم ماته په څه چل راکړه
توره تیره ده ستا ،منم سربه کړي غوڅ ددیرو
دژوند نسخه راته پرځاي ددي اجل راکړه
عیش وعشرت ستامبارك شه ماته سوله راوړه
زیري دامن ترهرڅه ماته اول راکړه
زه په اغزوکي یم لوي شوي نازولي نه یم
چي درته ووایم بستري دبخمل راکړه
زه صحراي یمه اشنامګروحشي نه یمه
ماته دمیني داسمان دستوروګل راکړه
داختلاف اوخپلچارۍ په دي تیاره ماحول کي
دمحبت اوخواخوږي څراغ لزبل راکړه
په زخمي زړه دفایض مالګي نوري مه دوروه
زهرکه وي هم له الفته سره یي مل راکړه

فاني دنیا

قاطن

شوتیره دادنیااولاتیریږي-ده فاني
راغلي چي دنیاته بیرته تللي ارماني
پیداازمینبت لپاره، په کړه ځي که په سمه
په نولسکي ده پاتي قدم اخله انساني
چي بل ته کوهي باسي، پکي خپله به ګوزارشي
په مخ کي لوي سفردي، څله ګوري اسماني
پنځوورځولپاره ابدي ژوند به خراب کړي
دخوارغریب په غوښوباندي مکوه خاني
دحق په ډیوه باندي قرباني لره پتنګ شه
چي نوم دي شي راپاتي په تاریخ جاوداني
دردمندوته دواشه دظالم په سرپوتندر
پټي دزخمي زړه شه، دغه دنده ایماني
راجګ کړه یتیمان دتوروخاوورومخ یي پاك کړه
چي اجردي نصیب شي دالله (ج) مهرباني
نظردترحم باندي پردي ځانته راخپل شي
خدمت دانسانیت کي که څوك ځان کاقرباني
دیوه غیران په ئمه به تیت نشي هغه سر
عاشق دعقیدي چي وي غیرت یي افغاني
دنیادشګي ګل دي پري تیرنه وځي «قاطنه»
توبه داخرت واخله پکي ده اساني

دهجرشپي

مجاهدجګرن «محمودي»

دهجرشپي مي لااوردي شولي سیانشولي
دهدف لاروکي تیاري ، تیاري رڼانشولي
په خپلووینومي اوبه کړي مړاوي – مړاوي غوټي
ارمان، ارمان چي دخزان دلاسه وانشولي
داسلامي حکومت حریم کي دتوحید بلبلي
دوحدانیت په فلسفه باندي ګویانشولي
مړژواندي پاتي شولي هیلي دشهیددامید
پاس په ګمبرچي بلالي ناري پیدانشولي
دیوري مور، دوراري خور، کونډي تسل ونشو
چي ني قاتلي خبري مخي نه فنانشولي
یتیمان ټول دامیدونه ناامیدپاتي شول
چي وروسره شوي وعدي خدایروښتیانشولي
وطن په چاهم دوطن په شانته ونه لګید
ځکه چي ورکي ترینه دادهري بلانشولي
نقابي دورشوحاکم دشهیدانوپه کور
چي دامنحوسي قواري رسوا ،رسوانشولي
لکه خلیل (ع) مي «محمودي» لمبوته ځان و نیوو
افسوس، افسوس دفتحي شپي ورځي ځمانشولي

دحضرت محمد(ص) دبختور میلاد په مناسبت

محمدکریم «رحیمي »

پیدابي چي له نوره ټول جهان سمـــه اوغردي
زمونږنبي سروردي، بي شکه پیغمبردي
دنیاته دراتلودمحمد(ص)چي اشاره شوه
ټول خلك شوه په حیرت کي،یوعجیبه ننداره شوه
مطلق په راتلویي، دکسراماني چپه شوه
بس ورځ دپیدایښت یي په کافرولوي محشردي
زمونږنبي سروردي ،بي شکه پیغمبردي
دده له برکته تغرتول دجهالت شو
ختمه غلامي شوه دورتیردبربریت شو
وژل دجونوبندشودغه وخت دعدالت شو
داڅه سکلي انسان دي په رښتیاخیرالبشردي
زمونږنبي سروردي ، بي شکه پیغمبردي
ظاهره کي رښتیادي دنبیانو آخرین دي
معناکي لومړني دعالمیانوبهترین دي
قران یي صفت کړي په ضحي اوپیٰاسین دي
شغلي دده دمخ دي چي جهان پري منوردي
زمونږنبي سروردي ،بي شکه پیغمبردي
صفات یي دومره زیات دي چي زماله وس بهردي
داڅومره چي ته ګوري که په لردي که په بردي
پیدادده له فیضه اسمانونه بحروبردي
په خولست دشفاعت نن رحیمي ددي دلبردي
زمونږنبي سروردي ، بي شکه پیغمبردي

دکشمیرننګیالي مجاهدته !

فضل هادي

زماپاڅون دي بدرګه کرهمنواشولي ته
چي په هندوانودي تکبیرکرهویداشولي ته
تل به ستایه شي په (امت) کي دافغان په تمثیل
لوي (سومنات) دي پرزولي بي پرواشولي ته
تاجي کري ویني نذراني دعقیدت په خاطر
مقصدبه مومي په دي لارتیزه رڼاشولي ته
هغوي دخسي عبادت کري بریالي به نشي
په توحیدي تال تازنګلي دي پیشواشولي ته
صهیونستان دي له جهاده سترخطرانګیري
دزوړ(ناقوس) دتقلیدخوښوته بلاشولي ته
حیرت انګیزه ماتي ورکره دي دشرك بچوته
هم بي تاراج کره سترقوت سپیدي څلاشولي ته
دهشت افګن څواك ته محکم کره خپل آهنګ دجهاد
ظلمت کده هندکي ښه ځریکه دسباشولي ته
عفت بي لوټ کړدمعصوموادبیوزلوښځو
دي ناالندوله کارخفه کري په ژراشولي ته
چي دکشمیرنالورواني کري دوینوویالي
دي نامحرم عمل ته ډیرپه واویلاشولي ته
دغزنوي، بچیانواوس هم وسله ایښي نه ده
انتقام اخلي ضرور که په غوغاشولي ته

بدمنظرګرفته

میرمحمدنعیم «سایل »

الهي شهرکابل درګرفته
بهشتي شعله هادربرګرفته
میان شعله میسوزدشب وروز
ګلستان دودوخاکسترګرفته
تفرجګاه مردم سوخت افسوس
چمن ازهرطرف اخګرګرفته
تمامي جاده هارا ازتأثر
توګوئي هیبت محشرګرفته
مسلمانان همه آواره ګشتند
وطن درکشوردیګرګرفته
تماشاکن بچشم خویش وبنګر
چومژګان هرطرف لشکرګرفته
بنوشندتاکه خون بیګناهان
بکف هرتشنه یي ساغرګرفته
بآغوش وطن پروردګاني
بقتل یکدګرسنګرګرفته
نمیدانم چه بیداد است آخر!
که هرکس درکفش خنجرګرفته
نګرآن کشته راطفل یتیمش
بګریه دامن مادرګرفته
ازین جنګ مسلمان بامسلمان
بدندان کلك خودکافرګرفته
زلطفت کن مددماراالها!
وطن بسیاربدمنظرګرفته
درصلح وصفا«سایل» کشاییم
مددازفاتح خیبرګرفته

وسووپه غمونوکي

محمدعارف «رحیمي »

نشته خوشحالي زمونږوسووپه غمونوکي
وران موټول هیوادشولوژوند موبیابانونوکي
پورته دآسمان لورته ګوري یتیمان بچي
ورك یي شهیدپلارترینه ژاړي مظلومان بچي
ډیرسپیرمخونه دي زمونږپه ولسونوکي
نشته خوشحالي زمونږوسووپه غمونوکي
ماویل آزادي به شي جوړبه ګلشنونه شي
هرڅوك به هوس کوي جوړبه ني زخمي زړونه شي
لاړه آزادي زمونږ لاشووکړاوونوکي
نشته خوشحالي زمونږوسووپه غمونوکي
کور،کلي، جومات نشته ډکي دروازي نشته
هره خواوحشت خپوردي هیڅ ځاي کي میلي نشته
ویراواندیښني ویتم کلواوکورونوکي
نشته خوشحالي زمونږوسووپه غمونوکي

دسولي پیغام

امان الله نصرت

زه دوخت توروتیاروته زړه چاودون یم
دوختونوهرماښام ته سباوون یم
کاروانونه رسومه خپل منزل ته
دهدف په لورروان یمه په تلون یم
هرتوپان سره ټکرخورم په میړانه
بي پرواله مرګ ودرداوله شبخون یم
نوم دظلم ختمومه په نړي کي
دمظلوموپرګنودزړه سکون یم
دبشرخونه به پاکه کړم له شرنه
زه پیغام دسولي امن اوسمون یم
تاندي هیلي ځوان فکرونه راسره دي
دنیمګرغه اوپتمن ژوندون مضمون یم
هغه ګل یم چي ازغي راسره نشته
دسپرلي په خبرپه سل رنګه ګلګون یم
هره خوامشال دمیني بلومه
دنفرت دي سرولمبونه اوښتون یم
چي نه جنګ وي نه دویني توئیدل وي
تل په هڅه زه نصرت ددي بدلون یم

معمارغوښتونکي یو

خان محمدستانیکزي

ظلمت دجهالت ته سپین سهارغوښتونکي یو
دي لوي خزان پسي بیادبهارغوښتونکي یو
زمونږه خزان شوي بڼ چي بیایوځل اباد کړي
ددي لاري ذکي، نشیط ملیارغوښتونکي یو
پټي چي دمرهمپه ټپونوزمونږکیږدي
دداسي مدبرطبیب، غمخوارغوښتونکي یو
وطن ئي چي ګټلي دسیاست، توري له لاري
هغه رهبرته تل دافتخار غوښتونکي یو
کاروان چي دبري،فتحي دي وراندي په مخ بیاني
دفتحي دکاروان دلوي سالارغوښتونکي یو
داڅوکلونه کیږي چي وطن کندواله شوي
دي وران، ویجاروطن ته دمعمارغوښتونکي یو
چي ډیرڅه ئي زغملي په غمونودملت خپل
اسلام ثاني احیا، ته حکمتیارغوښتونکي یو
روان چي بیا ماشین دوران وطن کړي ستانیزیه
دي لوي اوسخت ماشین ته دفنکارغوښتونکي یو

دنیا

حفیظ الله «تراب»

رئیس هاشم چي به لومړي خپلي ریري (کراچي) ته وکتل اوبیابه ئي خپل تیروختونه رایادشول نوله ډیره غمه به ئي سترګي اسمان ته ونیولي خوچاره څه وه ؟ دپیښور ژوندخوله قیامته کم ندي . ټوله مئړه ده او هرڅوك پخپل غم کي وي، رښتیاهم هغه په کابل کي دډیرسوکاله اوآرام ژوند څښتن و، آخردتجارت په وزارت کي ریاست څه وړه خبره نه ده، هغه هلته په اصطلاح دسرواوسپینوسره لوبي کولي اونن !! نن هغه به لوي بازارکي دکراچي پسي رهي وي .

که څه هم دهجرت په لومړیو شپووړځوکي دهغه سره ښي ډیري افغاني وي، خوچي کارنه وي نودروپو غرهم په تیاره ختمیږي . هغه چي ترڅو ددي ځاي دژوند دتیرولو په طریقو پوهیده نوبیابي خپله ټوله پانګه ختمه کړي وه . هغه یوښکلي کورپه کرایه نیولي و . خوراك ،څښاك یي هم دکابل په څیرو. هغه پدي هیله وچي ګوندي دکابل غوندي دنده به ورته دلته هم پیداشي . خوداسي کله کیدي شوه ، سره ددي چي هغه دلوروتحصیلاتو څښتن و ترپایه ورته کارپیدانشو. او داځکه چي دهغه نه واسطه وه اونه هم بل څه .

ورځي شپي تیریدلي. دهغه په اوزګارتیاکي کلونه تیرشول .-اوپه پاي کي بیاداسي وخت هم راورسیدچي هغه به یوازځي خداي ته همدازاري کولي چي پوروته ني اداشي . اوکله چي نیستي خپسي پري نوري هم منګولي ټینګي کړي نوبیائي له ښاره به لیري کلي کي یوخام کورپه دوه سوه روپي دمیاشتي په کرایه ونیو .

یوه میاشت ئي کرایه ورکړه خوپه دوهم ځل ئي ددي توان هم نه درلود. ترډي ورروسته پري داسي وخت راغي چي دهغه نازولوماشومانو به دچاپوپسي ژړل . یوه ورځ ئي ماندیني ورته وویل! ترڅوبه دماموریت یابلي وظیفي په طمع ناست ئي. دکورټول شیان خوموخرڅ کړل آخرداماشومان خوبي غواړي. موږبه ګذاره وکړوچي لوبان یوو. دوي خوغریبي اوبیکاري نه پیژني ولي بل کارنشته ؟

هغه دیوه سوړاسویلي نه وروسته په زړه کي وویل: میرمن مي رښتیا وایي چي دقلم کارنشته نومزدوري به وکړم . هسي هم پردي وطن دي. ترکومه به زه دابرومندانه کارپه انتظاریه کورناست یم .

دداړول سوچونونه وروسته هغه زړه نازړه ښارته راغي کله به یوي مغازي ته ودریداوکله هم بلي ته ، دډیرونه ئي دمنشي دکمبود په هکله پوښتنه وکړل . خوهریوه به دنه جواب ورکړ . ورځ ئي ټوله به نهره تیره کړه اومازیګروچي شونډي اوغمجن زړه کورته راغي .

په سباته بیاښارته ولاړ. هغه به لکه سوداګي کله دښاریوچوك کي ودریداوکله هم بل کي ، څه وخت چي به ئي دښارلوي دکانونه ولیدل نوپه زړه کي به ئي داګرځیدل چي کاشکي په یوه دکان کي راته دپیاده دنده پیداشي . زه خوهسي هم دزړه ناروغي لرم بل دروندکارنشم کولي . خو چي کوم دکان ته به ئي دورننوتلونیت وکړ نوپه زړه کي به ئي دا وګرځیدل چي هسي نه داهم دنه جواب راکړي اوهسي به مي دافغاني غیرت پاکه ښیښه ګردجنه شي. نوهماغه به وچي یي له پوښتني به ئي په ځنګ کي غلي تیرشو .

هغه دپرون په پرتله نن ډیرخواشیني ودهغه وړه لورډیره مرګوني تبي نیولي وه . که هغه ته نن دچوري وظیفه پیداواي نودابه ئي هم دخپلي ناروغي لورددرملوداخیستولپاره په ډیره خوښي کري واي خوپیښورکي کارپیداکیدل څه اسانه خبره نده اوچاته چي مزدوري پیداشي نودومره خوش وي لکه دکانکورپه ازموینه کي چي بریالي شوي وي. هغه خپلي غریبي اودناروغي لورسوچونولکه لیوني دفردوس سینماپه مخکي په مخه کړي و چي ناببره ئي یوکلیوال ولید. ترروغبړوروسته ئي ورسره دزړه خواله وکړه . هغه چي درئیس هاشم ستونزي واوریدي نوډیرخوابدي شو. ځکه دده ژوندخوهغه لیدلي و. ترلږوخبروروسته ئي ورته وویل :

رئیس صیب ! زه دومره کولي شم چي دغه خپله کراچي تاته درکړم ، دومره ګران کارندي سهاروختي به په منډئي کي ترکاري اخلي اود سرك په غاړه به ئي په خلکوخرڅوي. ترمازیګره به خداي دومره درکوي چي دکورګذاره دي پري وشي . زه به خبردي بل کاروکړم .

که خوښه دي وي سباسهارراشه ، نني سوداپه زه خرڅه کړم اوبله ورځ به تاسوخپل کارشروع کړي، هغه چي داخبري واوریدي نوډیري خوښي نه ني په مخ کي وینه وځلیده . خوسره ددي په زړه کي ډیرخوابدي و . هغه فکروکړچي کراچي خوپیداشوه ، دترکاري دپاره به روپي له کومه شي؟

څوځله به یي زړه کي وویل چي راشه ورته ووایه کلیواله ! دومره ښه چي دي وکړل نوپنځه سوه کلداري هم راکړه ، خوچي دي خبري خبري ته به ئي خوله جوړه کړه نوزړه به ورته وویل چي څومره غریب اوسپك به ورته ښکاره شم . هغه دڅوشیبولپاره لکه ګونګي غلي وچي کلیوال ورته وویل ځنګه رئیس صیب لکه چي داکاردي خوښ نشو! هغه ورته په ترهیدلي آوازوویل ! نه نه . داخو ډیرښه کاردي ، خداي دي تاسوسره ښه وکړي خو ... اوددي سره غلي شو ، کلیوال چي هم ددنیا دتجربوڅخه وتلي و دهغه په مطلب پوه شواوورته ئي وویل :رئیس صیب ! که روپي درسره نه وي نوپنځه سوه کلداري به زه درکړم چي کله مو وګټلي بیابه ئي راکړي . دروپوخبره نه وه سم داخترزیري و . دهغه تندي دخوشحالي، نه وغوړید اوورته ئي وویل وروره ! ډیره مننه زه به ستااحسان کله هم هیرنه ... ده «مخ

تورنشکیلاک سره پاګلان دیوي بلي تیروتني په سمندرګډوي

۳، غلام حضرت "شاکر"

په تيرېسي ،امريکايي مقاماتو ديوږ دبي طرفي څخه ، خوښي څرګنده کړه ، اوزياته يي کړه چي هغوي (امريکا) له پاکستاني پوځ څخه غوښتي ووچي هغوي دديموکراسي په خلاف په خپل هيوادکښي مارشال لا اعلان نکړي ،او... زمونږ باوردي چي که پاکستاني پوځ په خپل هيوادکښي دسياسي بحران داختتام لپاره دمارشال لا په لګولو کوم ګام اخيستي واي ،که ددي هيواد هراړخيزي ګټي هم پکي مضمرواي ، امريکايي مقاماتو به يي مخالفت کړيوو اودپاکستان نظام به يي غاصب نظام باله ، داقتصادي مرستوپارچاو (مقاطعه) به يي ورسره اعلاناوو ، اوخداي خبرچي نوري به يي لاڅه وڅه دسيسي ورته پکاراچولي.

خودتاجکستان قانوني اودولس په خوښه رامنځته شوي نظام چي دروسي اونوروکمونيستو واکدارانو په مستقيمه لاسوهنه دکرليوکمونيستانو لخوا دزرګونو انسانانو په قلع وقمعي سره رنګيږي او په ځاي يي هماغه پخواني کړلي " منفور" اوروس نوازنظام په پښودربري ،همدغه دديموکراسي کاذب پلويان " امريکايان" يي چي دملګروملتواداره يي عملاًپه لاس کښي ده ،او دخپلو استعماري ګټو لپاره يي چي په هره خوارغواري اړولاي يي شي ،نه خوغندي اونه يي

په باب دمخالفت آواز اچتوي ،اونه خوداوايي چي هلته دديموکراسي اصل تريښو لاندي شوي ،لاچه دملګروملتوداداري په مښود " کوښښ " غواړي دهغه هيواد مظلوم مهاجرين بيرته هماغه غاصب او غيرقانوني رژيم ته تسليم کړي .توپدي اساس ئن چي بګيلي روسان دتاجکستان پداخلي چاروکښي تشبث کوي ،اوپداسي حال کښي چي روسي پوځونه په ۱۹۸۹ کال دفبرورې په (۱۵) نيټه له افغانستان نه ناکام او کوزګوري ووتل ، روسانو ژمنه وکړه چي بيابه دداسي اشتباه مرتکب نه ګرځي ،اود افغانستان په لوريه په کږونه ګوري ، خوسره لدي هم چي روسي واکوال جرئت کوي اودافغانستان په دننه کښي ګولي اوروي ، لدينه داسي معلوميږي چي دادهغوي يهودي انديوالان دي چي دوي "بګيلي روسانو" ته پرافغانستان دبلوسي جرئت اوتلقين ورکوي .

وايي چي : يوکمزوري سړي په بام ولاړوو، لاندي يوغښتلي ځوان ته يي چي ده به يي په مخ کي آدچاخبره آه نه شواي کولاي ،په ښکنځلو اولوځويوخوخوله خلاصه کړه ، داغښتلي ځوان چي دهغه ښکنځلي واوريدي ، غابونه يي وچيچل ،ويي ويل : داته نه يي ، داستالورمقام د ي... په ځاي په دي چي پدي ځاي کي دبګيلوروسانو دترکتازي " تاخت وتاز" سره روابوچي: داروسان نه بلکه يهودي

پابلاتيان "فتنه ګر" دي چي پاګل روسان يوځل بيا زمونږ په غاړه کي رااچوي اوديوي بلي تيروتني په سمندريي ګډوي .داچي امريکايي يهودان دروسي پاګلانويه مرسته اومښودولي غواړي زمونږ په هيوادکي دغه ډول پيښي رامنځته کړي ؟! ښکاره خبره ده چي افغانانو دپنځلس کلن مجاهدت په نتيجه کښي وکړاي شواي اسلام دنړي په ګوټ ګوټ کي ديواصل په حيث اوديوه رغوونکي مکتب په توګه په انساني اذهانو کي راژوندي کړي.

زمونږ دجهاد نه مخکي دانساني ذهنيت په اوراقو اسلام ديو عنعنوي آئين په توګه مطرح وو ، اودځينو خائنوعناصرو دنه پښونکي جفا په نتيجه کښي يي رغوونکي حيثيت په عمدي ډول مسخه شوي اوتحريف شوي وو.

ځکه زمونږ دجهاد نه دمخه ځينو ناهلانو دکمونيزم په مزخرف مکتب انهماك کاوو. اوس دکمونيزم دابطال سره چي دلويديځ تهذيب لاتري دمخ سوليدلي دانسانيت دتمسك اوارجاع بوازني دين زمونږ دجهاد له برکته يوځل بيا اسلام معرفي شو، چي زمونږيه هيوادکي په همدغه اصل دولاړنظام له ټينګښت سره به انشاءالله په ګرده نړي ورځپورشي اوديوي ستري تولواکمني دايجاد احتمال به ورسره په يقين بدل شي ، چي دلويديځ دکبرجام به هم ورسره نسکورشي . همداخبره ده چي

لويديځوال زمونږ دنظام دټينګښت په مخه کي مارکونډي شيندي . دوهم لامل چي تيروال طاغوت يي زمونږيه رابطه پرسولي دادي چي افغان ولس په عام طور زمونږ دانقلاب په پنځلس کلن مجاهدت کښي دجنګ له ترخوسره آشنااوپه دي اروند روږد شوي ، تربنګ شوي قام دي چي ديوه پياوړي روږد شوي پوځ حيثيت لري ، آنتردي چي ماشومان يي په لوبو کښي هم دجنګ پروګرامونه تمثيلوي ، تواستعمارکه له يوي خوا په بين الافغاني شخړوکښي ددي ولس عدم لټوي ،له بلي خواهمدغه بګيلي روسان توشوي اوپه شايي تپوي چي داولس دخپلو دوربردووسلوپه استعمال سره نه خو سکون اوقرارته پريدي ، اونه له روسي استعمار نه دکسات اوانتقام پروګرام ته . داوخت چي دځينوشرپسندوعناصروله لاسه افغاني کمونيستان دراتلونکي بالقوه خطرپه توګه مطرح دي.

ښکيلاك غواړي دافغانستان پاسنيوپولوته خيرمه د"تاجکستانپه سرحدکي " دروسي خواکونو له کثيرالتعداد اوپرځواکه موجوديت سره دغه افغاني کمونستان تشجيع کړي ،ترڅوکم له کمه دافغانستان راتلونکي اسلامي نظام ته يوسرخوږخوشي . هغوي داذربايجان اوتاجکستان پيښو په خير چي بيازاره خلع شوي کمونيستان پکي په پارکال سپاره شول ، دافغانستان

په اره هم بالمثله انتظارلري .

خومونږ دښکيلاك ددغه ناکام هاند په هکله وايو چي : دخداي (ج) نوريه پوکلونه مرکيږي ، افغانان به انشاءالله دخپل متعالي آرمان دتحقق پريام خيژي ،اوورسره به داسلام تعميم شوتي تياموسي ،اوکه ښکيلاك ګومان کوي چي دافغانستان اوتاجکستان پر پوله دروسانو تراکم او دهغوي له لوري دافغانانو ترتنه به دتاجکي مهاجرينو اوافغانانو ترمنځ دهمکاري او روابطو دټينګښت لازمات زيانمن کړي اوددوارو خواوو ترمنځ به خراوي رامنځته کړي.

داهيڅ ممکن نده،هغوي زمونږ دعقيدي ورونه دي- اوپه همدي اړونويي په خواکي قلباً اوعملاً ولاړيو.

اوکه افغان مجاهدين ژوندي وو له تاجکو مهاجرينو سره به خداي مکره هيڅکله دابراهيم بيګ په خيرجفا ونه شي په پاي کي دګورباچوف دنژدي دوست قرغزنژاده ليکوال چنګيز ايتماروف چي دپخواني شوروي اتحاد دشوري غړي هم وو، هغه خبره يوځل بيا روسي مقاتنو ته وراورووچي دګورباچوف داقتدارپه وروستيووختوکښي يي دمارکسيست پاکستاني شاعر فيض احمد فيض دياد بود په مجلس کي چي په لندن کښي دايرشوي وکړه اوهغه داچي : روسان بايد دافغانستان په داخلي امورو کښي له مداخلي نه توبه وباسي ،په افغانستان باندي دروسانويرغل اوتجاوز سترجنايت دي چي عاملين يي بايد وپيژندل شي اومجازات شي.

دامربالمعروف اونهي عن المنكر ...

اوکله چي خبره له محبت نه دعشق درجي ته رسيږي نوغواړي چي ددنيا په ذره ذره کي دهغه جمال وي اوداژوند يوه شيبه هم له هغه پرته دبل څه په ليدلو اودبل څه د ذکر په اوريدلو ضايع نکړي اوبيا چي داعشق دقرباني سرحد ته ورسيږي . نوبيا خپل ژوند دهغه خدمت ته دتقويي اوخپل ځان اومال عيش اوارام ،عزت اوابرو اولنډه داچي ټول له هغه نه ځاروي پس امربالمعروف چي دکوم شي نوم دي هغه په حقيقت کي له نيکي سره نهايت عشق دي اوکوم شي چي په نهي عن المنکرتعبيريږي .له بدي سره نهايت بغض اوعناد دي . په معروف حکم کونکي يوازي نيك نه وي بلکي په نيکي عاشق اوپرهغه ځاريدونکي وي اوله بديو نه منع کونکي يوازي له بديو نه ځان ساتونکي نه دي بلکي دهغه دښمن او وينو ته يي تږي وي يوه بله جذبه چي امربالمعروف اونهي عن المنکر اساس پري ايښودل شوي دي.

دانسانيت مينه اودخپل بني نوع سره دخواخوږي جذبه ده .خپل چاري انسان ته چي الله جل جلاله کوم نعمت ورپه برخه کړي دي نو غواړي چي يوازي دي دده وي اوڅوك دي ورسره پکي شريك نه وي . په همدي توګه کوم مصيبت چي پخپله پرهغه خلك هم تري متضرريږي رسول صلي الله عليه وسلم دامضمون په يوه حديث کي په نهايت وضاحت سره بيان کړي دي.

مقابله په ډيري سختي سره کيږي اوځرنګه چي انسان مادي مينه والي او بدي دهغه داخلاقي اوروحاني ژوند تابع وي، پردي اساس ددي صفاتو اصلي مقابله په حقيقت کي په دي دنياکي وي دبني نوع يوربښتني خواخوږي مازي پردي نشي قانع کيدلاي چي خپله دي نيك سړي شي . ترڅو دانساني وروروليو نورغړوته هم دبدي له پنجي نه دخلاصون لاره ونه ښيي ،واده کيدلاي نه شي.

دهغه روح چي نوريه بدي مبتلا ګوري ناراميږي هغه چي نورانسانان دنيکي له لباس نه عاري ګوري نودي نارامه شي لکه کومه مورچي خپل کوچني په يخني کي لوڅ وګوري اونارامه شي . هغه نه چي ښه والي معلوم شي چي زړه يي غواړي چي ټول انسانان له هغه نه ګټه واخلي اوچي په بدي پوهيږي نوغواړي چي يوانسان هم دهغه په منګولو کي ګير نه وي . هغه پوهيږي چي که کوم شي ښه وي نو يوازي زما لپاره نه دي بلکي دهر انسان لپاره ښه دي اودازماوظيفه ده . چي هغه دحضرت آدم هريچي اوبچي، ته ورسوم.بل شي که په حقيقت کي بددي نوهغه يوازي زما لپاره بد نه دي بلکي دټولو لپاره يي بدي يوزنګ ده اودخلکو بچول تري زماوظيفه ده پخپل ښه والي قناعت کول اودنوروښه والي ته غوښتل اوله ځانه بدي لري کول واده کيدل.

الله پرعامو خلکودخاصو خلکو دعمل له لامله ترهغه وخته عذاب نه نازلوي ترڅوپرهغوي کي دا عيب پيدا نشي چي خپل مخ کي بدعمل وګوري اوهغه يي دمخنيوي قدرت ولري مګر منع يي نه کړي ترکله چي هغه داسي کوي نوالله په عامو اوخاصو ټولو عذاب نازلوي ".

پس امربالمعروف اونهي عن المنکر يوازي دنوروخدمت نه دي بلکي خپل خدمت هم دي اوپه حقيقت کي به مجموعي ښه والي اوبهتري کي دخپلي بهتري غوښتني دداښمندانه تدبير دويم نوم دي.

داسلام دسترپيغمبر(ص) ...

داسلام دسترپيغمبرصلي الله عليه وسلم وړوکتوب ته يونظر :

ژباړه : عاطفي :

